# په څه ډول يو بانکي حساب پرانستل شي

جون ۲۰۱۱

Opening a bank account - Pashto

که تاسو مهاجر ياست، بشردوستي ساتني، احتياطي جواز يا د پاتي کيدو لپاره نامحدوده جواز لرئ، نو تاسو په سکاټلينډ يا د انګلستان په بل هرځای کې د بانکي حساب پرانستلو حق لرئ.

HAPPY TO TRANSLATE

په هر حال، مخکې له دې چې يو بانک تاسو لپاره بانکي حساب پرانيزي، هغوی اړتيا لري تر څو ستاسو د هويت او فعلي آدرس څخه مطمين شي.

دا پاڼه بې مشخصوي چې د يو بانکي حساب پرانستلو لپاره به تاسو کومو اسنادو ته اړتيا ولرئ، څنګه يو حساب پرانيزئ او نور څنګه مرسته کولای شو.

**د يوه بانکي حساب پرانستلو لپاره څه بايد وکړم؟**

هر بانک د منلو وړتشخيص  اسنادو خپل لست لري او ځيني بانکونه شايد د نورو څخه زياتو مالوماتو ته اړتيا ولري. په نورماله توګه د يوه بانکي حساب پرانستلو لپاره تاسو به دې ته اړ اوسی چې بانک ته د ستاسو  په تايدولو سره اسناد ورکړئ:

- هويت؛
- د مهاجرت حالت؛ او
- آدرس

يادداشت بې کړئ چې ډيری بانکونه به په نورماله توګه يوازې اصلي اسناد او يا د هغوی تصديق شوی چاپ مني.

تاسو به دې ته اړ اوسی چې **لږ ترلږه د هويت ثبوت يو فارم** وښايي لکه:

- د يوه مرکزي دفتر ليک چې ستاسو حالت تاييدوي(د مهاجرت حالت، بشردوستي ساتنه، احتياطي جواز يا د پاتي کيدو لپاره نامحدوده جواز) او د کار اجازه- اصلي اسناد يا د مرکزي دفتر په واسطه تصديق شوی چاپ؛
- د يوه مرکزي دفتر د هويت تصديق- اصلي اسناد يا تصديق شوی چاپ د مرکزي دفتر د مرجع د شميرې سره، ستاسو د زيږيدو نيټه او د سند د نيټې تيريدو وخت؛
- د کټي رسولو خبر ليک چې ستاسو د کټي حق تاييدوي؛ يا
- د مهاجرت د حالت سند.


Scottish Refugee Council is a charity registered in Scotland.
Registered Charity: SC008639

تاسو به دي ته اړ اوسی چي **لږترلږه د آدرس يو ثبوت** وښايي، لکه:

- له مرکزي دفتر څخه ليک چي ستاسي نوم او فعلي آدرس په ګوته کوي؛
- بيلونه چي ستاسو نوم او فعلي آدرس په ګوته کوي؛
- له يوه دولتي اژانس څخه ليک، د مثال په توګه د کار مرکز، چي ستاسو نوم او فعلي آدرس په ګوته کوي؛ يا
- د کرايي يو تړون چي ستاسو نوم او فعلي آدرس په ګوته کوي.

يو بانک شايد سربيره پردې نور مالومات هم وغواړي، لکه د ګټي ثبوت.

## د يوه بانکي حساب پرانستلو ته چيرته ولاړ شو؟

تاسو به دي ته اړ اوسی چي د بانک يوې څانګي ته ولاړ شی چي تاسو په نښه کړي او هغه اسناد راواخلی چي ښيي تا سو څوک ياست او په کوم ځای کي ژوند کوئ، لکه څنګه چي پورته ښودل شوي. ځيني بانکونو نموني دي چي شايد تاسو يې وګورئ. تاسو کولای شی په د حساب پرانستلو لپاره خبري وکړئ يا له مخکي بانک سره د يوې ناستي لپاره اړيکه ونيسی.

ستاسو د محلي څانګي د اړيکو توضيحات کولای شی د تيلفون په کتاب(لاربښود) کي يا د بانک په انترنيتي پاڼه کي ومونډئ.

## د يوه حساب پرانستل څومره وخت اخلي؟

د غوښتن ليک جريان په بانک پوري اړه لري چي تاسو ورته ځی مګر چي ستاسو اسناد درست وي نو زيات نه زيات؛ په نورماله توګه نه بايد له ۳-۲ اونيو نه ډير اوږد نه اوسي.

که ستاسو اسناد د لا زياتي کتني لپاره کوم ځانګړي رياست ته راجع شي، نو د حساب پرانستل شايد ډير وخت ونيسي. د بانک کارمندان به تاسو ته اوواي که هغوی ستاسو غوښتن ليک راجع کيږي او تاسو ته به يې په ډاګه کړي چي دا ولي ضروري دی. دوی به يې مشخص کړي چي ستاسو غوښتن ليک باندي فيصله څومره وخت نيسي.

Scottish Refugee Council, 5 Cadogan Square, (170 Blythswood Court), Glasgow G2 7PH Tel: 0141 248 9799, Fax: 0141 243 2499,
www.scottishrefugeecouncil.org.uk
Scottish Refugee Council is a charity registered in Scotland.
Registered Charity: SC008639

**ماته یو ابتدای بانکي حساب  راکړل شو، د دې سره زه څه کولای شم؟**

یو ابتدای بانکي حساب ابتدای بانکي خدمتونه وړاندې کوي. تاسو کولای شی دا د ورکړې او د پیسو اخیستلو لپاره وکاروئ.

د یوه ابتدای حساب سره تاسو کولای شی:

- له یوې بهرنی زیرمې څخه په مستقیمه توګه خپل حساب ته پیسې اضافه کول، لکه د یوه ګټې اژانس یا د ګمارونکي څخه؛
- له بریټنیای لپاری نورو خلکو ته د پیسو لیږد له ؛
- نورو خلکو ته اجازه ورکول ترڅو ستاسو له حساب څخه په مستقیم ډول له بریټنیای لپاری پیسې واخلي؛ او
- د یوه ډیبټ کارت لاس ته راوړل ترڅو وکولای شی له نقدي ماشینونو څخه پیسې لاس ته راوړئ. تاسو شاید د دې وړتیا هم ولرئ چې آنلاین یا له پلورنځیو څخه اخیستل وکړئ(د بانک کتنې سره).

**د هغو خدمتونو لپاره چې زه یې کاروم  پرداخت باید وکړم؟**

خورا ابتدای حساب خدمتونه وړیا دي. تاسو دې ته اړ نیاست چې په انګلستان کې د زیاتره نقدي ماشینونو استعمال لپاره اچونه وکړئ. په هر ترتیب، ستاسو بانک شاید تاسو باندې یو فیس چارج کړي که ستاسو حساب کې پیسې کافي نه وي کله چې تاسو مستقیم ډیبټ پرداخت ته واک ورکړی وي او ستاسو په حساب کې د پیسو د کموالي له کبله  په پای کې پرداخت ردشي

**زما اختیارونه څه شی دي که زه د یوه بانکي حساب پرانستلو وړ نه اوسم؟**

که تاسو د یوه بانکي حساب پرانستلو وړتیا نه لرئ، تاسو کولای شی د یوه پوستي دفترکارت حساب لپاره غوښتنه وکړئ. دا یو ډیر ساده ډول حساب دی، د هغوی لپاره څوک چې ګټې ، دولتي تقاعد او ټیکس کریډیت پرداخت لاسته راوړي او نه شي کولای چې بانکي حساب پرانیزي. نور پرداختونه نه، لکه د کور جوړوني ګټه، کسبي تقاعد، یا له ستاسو ګمارونکي څخه مزدوري کولای شي دې ته اضافه شي. او نه هم تاسو کولای شی دې حساب کې شخصي ذخیره جوړه کړئ.

که تاسو ګټې لاسته راوړئ، نو خپل محلي کارځای څخه وغواړئ چې تاسو د یوه بلنلیک سره تیار کړي، کوم چې تاسو ته اجازه درکوي چې د پوستي دفتر کارت حساب پرانیزئ. بلنلیک او خپل د مهاجرت حالت سند له ځان سره خپل محلي پوستي دفتر ته د حساب پرانستلو لپاره یوسی.

یو پوستي دفتر کارت حساب تاسو ته اجازه درکوي چې په هر پوستي دفتر کې د ډیبټ کارت په استعمال سره چې دوی تاسو ته در کړی، پرته له کمیشن څخه نقدي پیسې اوباسئ.

**که زه ځای بدل کړم نو څه؟**

یو ځل چې تاسو بانکي حساب پرانست، تل بانک ته ځومره ژر چې امکان ولري د خپل آدرس په اړه که تبدیل شي، لیکلی خبر ورکړئ.

**سکاټش رفیوجي کونسل ما سره څنګه مرسته کولای شي؟**

که تاسو له مخکې د یوه بانکي حساب لپاره غوښتنه کړي وي او په پرانستلو بې بریالي شوي نه یې، نو تاسو کولای شی موږ سره د مشورې لپاره اړیکه ونیسئ. تاسو کولای شی موږ سره په دې **وړیا شمیرې اړیکه ونیسئ:** ۰۸۰۰۰۸۵۶۰۸۷ دا شمیره یوازې له ځمکني(لایني) تلفونونو څخه وړیا ده.

موږ کولای شو تاسو لپاره د بانک سره یوه ناسته په اختیارونو د غږیدلو لپاره جوړه کړو او تاسو سره د ملاتړ د وړاندیز لپاره ناستي ته ولاړ شو. یادداشت بې کړئ چې موږ یوازې **وروسته** له هغي دا ملاتړ وړاندې کوو چې لومړی تاسو پخپله د یوه حساب پرانستلو کوښښ کړی وي او په دې نه بې توانیدلي.

**په یوه وړیا مالي ورکشاپ کې ګډون کول**

که تاسو غواړئ چې د بانکي حسابونو په اړه زیات څه زده کړئ، د پیسو اداره او قرض اخیستل یا حتی د سوداګری د پیل لپاره لومړي قدم اخیستل، نو زموږ وړیا مالي سواد پروژې ورکشاپونه د یو ښه پیل ټکی دی.

carolanne.nehme@scottishrefugeecouncil.org.uk د لا زیاتو مالوماتو لپاره

**تلفون:** ۰۱۴۱۲۲۳۷۹۷۱ **ګرځنده شمیره:** ۰۷۷۳۴۰۳۰۷۶۱